# د پانيني د زېږدنې زمانه او زوکړې د مقام کشاله
# The Conflict of Panini's age and Birth Place

Dr Bushra khatoon*

**Abstract**

Indian Linguists have contributed enormously to Sanskrit language, panini was one among them. He was the founder of a scientific system of grammar. He is known for his Sanskrit grammar, particularly for his formulation of the 3959 rules of Sanskrit morphology syntax & semantics in the grammar known as Astadhyayi. His grammar is considered by modern linguists as the most complete grammar of any language. Nothing definite is known about when panini lived. It is however known that he was from a village namely salatura in Gandhara province but some scholars show salatura in attock, some in Punjab & others in charasadda (pashklavati). This paper analyses all these arguments and attempts to solve the conflict of his period & birth place.

پانيني د سنسکرت ژبې يو پوهه ماهر ؤ. دۀ د سنسکرت ژبې داسې مختصر، کوټلې او سائنسي ګرائمر ليکلے ؤ چې تر ننه پورې پرې څېړنې کېږي. ولې ثاني ئې نشته. دۀ سنسکرت ژبه دومره سوچه او پاک شکل کښې محفوظه کړې وه چې د سنسکرت ژبې نهۀ نوي في صده ۹۹٪ غير ويدي ادب هم د پانيني په ژبه کښې دے.

* Junior Research Officer Pashto Academy University of Peshawar

**د پانیني زمانه :-**

د پانیني د زېږدنې دزمانې په حقله پوهان یو خولـهٔ نهٔ دي۔ د دوېمې پېړۍ قبل مسیح نه واخلې تر اتمې نهمې پېړۍ قبل مسیح پورې د هغهٔ زمانه یادولے شي۔

Rajani Kanta Gupta په خپل کتاب '' پانیني ''کښې د مهارشي پانیني ژوند د اتمې نهمې قبل المیلاد د صدیو تر منځ ښودلې ده[۱] ۔

پروفېسر بهنډارکر د پانیني زمانه اوومې پېړۍ قبل مسیح کښې ښائي۔او دا هم وائي چې کېدے شي چې ددې نه هم وړاندې وَي۔

د انټرنېټ یوه ویب پاڼه د پانیني د زېږدنې او مړینې دا تاریخونه ښائي۔

"D/o Birth : 520Bc in Salatura.

D/o Death : 460 Bc in India[۲].

دغه شان په '' قرون وسطٰی میں هندوستانی '' نومې کتاب کښې د پانیني د ژوند زمانه شپږمه پېړۍ قبل مسیح ښودلې شوې ده۔ میر سید بخاري په خپل اثر کښې لیکي :-

*''ڈاوسن اسے چوتھی یا چھٹی صدی قبل مسیح میں بتاتا ہے۔[۳]''*

ترجمه :- ډاوسن ئې په څلورمه یا شپږمه پېړۍ قبل مسیح کښې وائي۔

دغه شان د افغانستان پوهاند عبدالشکور رشاد په خپله یوه مقاله کښې د پاني ني د زمانې په حقله د مختلفو پوهانو رائې ذکر کوي هغه لیکي :

'' پروفېسر ماکس مولیر د مهارشي پاني ني ژوند د څلورمې قبل المیلاد د سدۍ په منځ کښې ښولې ده[۴] ''

*''بن سم اور بوت لنک کے مطابق یہ شخص پانینی ۳۵۰ ق م میں زندہ تھا۔[۵]''*

ترجمه :- د بن سم او بوت لنک مطابق دا سړے پانیني په **۳۵۰** ق م کښې ژوندے وَ۔

عبدالشکور رشاد په خپله مقاله کښې لیکي چې :-

" د Indian Antiquary د لومړي ټوک په ۳۰۲ مخ کښې
راغلي دي چې پا ني ني د مګده Magadh د باچا Puspamitra
(۱۷۸ ق م ـ ۱۴۲ ق م) معاصر وو [۶] "

د هندوستان د لسانیاتو ماهران Pushpindra syal او D.v Jindal په خپل اثر کښې ددۀ زمانه د څلور سوه کاله قبل مسیح ښودلې ده لیکي چې:

"The most ………… Sanskrit grammer[۷] "

ترجمه :- د سنسکرت په ژبپوهنه کښې نومورے نوم څلور سوه کاله قبل مسیح د ګرامر پوهان پانیني دے چې د سنسکرت د ګریمر ئې تفصیلي بیان کړے دے.

کله چې د سوئیلي ایشیا د تاریخ په حقله خبره کیږي نو هم پکښې د پانیني د نوم ذکر کیږي. ښاغلے S.M.Jaffer د د لاهور (صوابی) لرغونتوپ د پانیني تر وخته پورې ښائي. هغه په خپل اثر کښې لیکي:

"The Indoscythian …………….. about 350 BC[۸]"

ترجمه :- د هغه ځائے نه د یوناني او ساساني سیکو ترلاسه کیدل ددغه ځائے تاریخ د مشهور ګرامر پوهان پانیني هومره زوړ ښائي چې په ۳۵۰ قبل مسیح کښې ئې ژوند کولو.

د پانیني د زیږدنې د زمانې په حقله میر سیدبخاري خپله رائې څۀ دا شان څرګندوي.

" پانینی کے عہد ـــــــــــــ قبل مسیح کا زمانہ ہے۔ [۹] "

ترجمه :- د پانیني د ژوند د زمانې په حقله مختلف څیړنکاران خپله رائې بیانوي ډیر محققین د څلورمې پیړۍ قبل مسیح د دور ښائي خو ډیره صحیح به دا وي چې ددۀ زمانه د بدهـ مت د کوچنـوالي پـه دور کښې اوشمارلے شي ـ ځکه چې دے ددې دور معاصر دے او دا د پینځمې پیړۍ قبل مسیح زمانه ده.

## داخلي شهادتونه :-

که مونږ د پاڼيني د کتاب اشټ ادهيائے ژبې ته اوګورو نو دا کلاسيک سنسکرت ده او دا هغه ژبه ده چې پاڼيني د هغه وخت د سنسکرت د مختلفو لهجو نه جوړه کړې ده . د پاڼيني نه وړاندې سنسکرت ژبه ويدي سنسکرت ګڼلے شي . ويد چې د هندوانو د ټولو نه مقدس مذهبي کتاب دے په ۲۰۰۰ کاله ق م خواؤ شاه کښې ليکلے شوے دے . ولې دا کتاب دومره مقدس ګڼلے شي چې چا هم ددې په ژبه کښې د بدلون جرأت نۀ دے کړے . دا به خولۀ په خولۀ د يو نسل نه بل نسل ته منتقل کېدو .

“The earliest Sanskrit …………………. by Their Guru[10]”

ترجمه :-د سنسکرت ژبې اولنے کتاب رګ ويد دے چې دوه زره کاله خواؤ شاه قبل مسيح ليکلے شوے دے . ولې دا د يو نسل نه بل نسل ته سينه په سينه په روايتي توګه را روان ؤ . په مدرسو کښې به چې ګوروګانو داشعرونه بار بار وئيل نو هلکانو به په ياده ياد وو .

کۀ مونږ د تاريخ پاڼې اولټوؤ نو ۲۰۰۰ق م نه واخله تر ۵۰۰ ق م پورې زمانه د ويدي دور يا ويدي سنسکرت په نامه يادولے شي . او ددې دور په آخره کښې پاڼيني خپل کتاب اشټ ادهيائے ليکلے دے .

“The Sanskrit language ……………… Classical Sanskrit[11].”

ترجمه :- سنسکرت ژبه د ۲۰۰۰ق م نه کله چې رګ ويد ليکلے شوے ؤ ،تر ۵۰۰ ق م پورې يعني يو نيم زر کالو پورې په مخه بدليدله . په پينځمه پيړۍ قبل مسيح کښې عظيم سکالر پاڼيني چې د هغۀ نه لوئے ګرامر پوهان نړۍ لا نۀ ؤ ليدلے خپل عظيم کتاب اشټ ادهيائے ( د اتو بابانو کتاب) اوليکلو . په دې کتاب کښې پاڼيني د سنسکرت ژبې دپاره اصول اوټاکل . او ود هغې نه پس په سنسکرت ژبه کښې بدلون پرې نۀ ښودے شو . د هغه ورکوټو بدلونونو نه علاوه چې دوؤ نورو عظيمو ګرامر پوهانو کتيايانا چې د ورتيکا په نوم ئې کتاب ليکلے ؤ او پتن جلي چې په اشټ ادهيائې د مهابهاشا په نوم شرح

لیکلې وه ـ د دغه ورکوټو بدلونونو نه علاوه سنسکرت ژبه تر ننه پورې حقیقي د پانیني سنسکرت یا کلاسیکل سنسکرت را رواه ده ـ

پانیني د ویدي دور سنسکرت ژبه چې هغه وخت ئې ډېرې لهجې وې په شواخون سره چاڼ کړه او کلاسیکل ژبه ئې ترې جوړه کړه ـ

"What panini did ............................... Precision and elegance[۱۲]"

ترجمه :- پانیني څۀ اوکړۀ چې هغه د خپل وخت رائجه سنسکرت ژبه په احتیاط سره مطالعه کړله ـ بیا ئې پاکه صفا او سوچه کړله ـ اودومره ئې منظمه کړه چې دا ئې د لوئې منطق ، باقاعدګۍ ، صحت او فصاحت ژبه جوړه کړه ـ

ددې خبرو پــه رڼا کښې مونږ وئیلې شو چې پانیني هم دغه د ویدي دور په آخره کښې ژوند کوۀ ـ

"Panini grammar defines ........................ but still comprehensible[۱۳]"

ترجمه :- د پانیني ګریمر د کلاسیکل سنسکرت تعریف کوي ـ نو پانیني د تعریف په لحاظ سره د ودي دور په آخره کښې ژوندے ؤ ـ هغه د وید په نظمونو کښې د قاعدو دپاره یو څو خاص قاعدې په ګوته کړې چې د هغه وخت د ویونکې ژبې نه وتې وې ـ ددې نه دا پته لګي چې ویدي سنسکرت ډېر زوړ شوے ؤ ولې بیا هم د پوهې جوګه ؤ ـ

د پانیني د ګریمر د لیکلو نه پس ټول غېر ویدي ادب د پانیني د کلاسک سنسکرت مطابق اولیکلے شو ـ په دې حقله د انډیا د سپریم کورټ جج ...... په خپل یو تقریر کښې وائي :-

"After panini wrote his Ashtadhyayi ............... Some words called apashabdas[۱۴]"

ترجمه :- کله چې پانیني اشټ ادهیائے اولیکلو نو سالم غېر ویدي سنسکرت ادب د پانیني د ګریمر مطابق اولیکلے شو ـ عن تر دې چې کوم غېر ویدي سنسکرت ادب د پانیني نه وړاندې لیکلے شوے ؤ هغه هم د پانیني د ګریمر

مطابق بدل کړے شو ـ سوائے د يو څو لفظونو چې "apash abdes" ورته وئيلے شي ـ

ددې شهادتونو په رڼا کښې مونږ وئيلے شو چې په روايتي توګه د پانيني ګرايمر د ويدي سنسکرت اخري دور ښائي ـ

"Panini comprehensive and scientrfic …………….. of classical Sanskrit[۱۵]"

ترجمه :- د پانيني د ګرايمر جامع او سائنسي نظريه په روايتي توګه د ويدي سنسکرت اختتام او د کلاسيکل سنسکرت شروع ښائي ـ

د اشټ ادهيائي د ژبې نه علاوه بل داخلي شهادت د پانيني په ګريمر کښې د '' ياوانان'' لفظ موجودګي ده ـ ددې لفظ نه هم د هغه د زمانې تعين کېدے شي ـ

"An important hint for the…………………… included province of Gandhara[۱۶]"

ترجمه :- د پانيني د زمانې ټاکلو دپاره اهمه نقطه د ياواناني لفظ موجودګي ده ـ يعني يوناني ښځه يا يوناني تورے ـ څۀ يونيان لکه سکائي ليکس په ګندهارا کښې د فارسي حکومت د شهري په توګه د سکندر د حملې يعني ۳۳۰ قبل مسيح نه وړاندې موجود وو ـ دا نوم به د زوړ فارسي يونا او انتظامي ژبې ارامي په ذريعه هم منتقل شوي وي ـ پس د ياواناني موجودګي د ۵۱۹ قبل مسيح شروع کښې ښکاري ـ او دا دارا اول د بهستون کتبې وخت ښائي چې ګندهارا صوبه په کښې شامله کړې شوې وه ـ

هم ددې ياوانان په حقله مير سيد بخاري په خپل اثر کښې ليکي :-

'' پانینی نے ایک زبان کا ذکر کیا ہے ــــــــــــــــــــــــ تو الف سے تبدیل کرتے ہیں۔ ۱۷ ''

ترجمه :- پانيني د يوې ژبې ذکر کړے دے چې د ياواني نوم ئې ورته ورکړے دے ـ او د جمع په صورت کښې ياواني وئيلو والاته ئې ياوانان ليکلي دي په مغربي ارامي ژبه کښې دا تورے په الف سره بدلېږي ـ

وړاندې ددې ياوانان په حقله ليکي :-

> "میرے خیال میں پانینی کے یاوانان وہی ـــــــــــــــــــــــ میں سکندر یونانی کے ساتھ ائی تھی۔[۱۸]"

ترجمه :-

پانيني چې د کوم قوم ياوانان ذکر کړے دے که مونږ د هغه وخت نورو ذريعو ته رسائي وکړو نو هم دا نوم په لږ ډېر بدل شکل کښې موندے شي ـ په دې حقله مير سيد بخاري ليکي :-

> "میں جس وقت پانینی کا ــــــــــــــــــــــــــ پانینی نے یاوانا تحریر کیا ہے۔[۱۹]"

ترجمه :- څهٔ وخت چې ما د پانيني دا ذکر شوے بيان ولوستو نو دې پسې مې سمدستي د تورات او ددې د صحيفو ورق ګرداني شروع کړه ـ صحيفه خز قيل (۵۷۵ ـــ ۵۹۵ ق م) کښې دا نوم داسې ليکلے شوے دے (يون) صحيفه دانيال[۴] کښې هم داسې ليکلے شوے دے ـ تورات د زيړون کتاب کښې هم دغسې ليکلے شوے دے ـ په رګ ويد کښې دا نوم (يونا) ليکلے شوے دے ـ خلاصه دا ده چې تورات کوم نوم يون ليکلے دے هغه رګ ويد کښې يونا ليکلے شوے دے او پانيني يا وانا ليکلے دے ـ

د ګڼو شهادتونو نه دا هم پته لګي چې دا قوم په دې سيمه موجود ؤ ـ ددې قوم د موجودګۍ په حقله مير سيد بخاري ليکي :-

> "شمالی افغانستان ، صوبہ سرحد اور پنجاب کے ـــــــــــــــــــــ کے زمانے میں لاہور کے آس پاس موجود ہیں۔[۲۰]"

ترجمه :- په شمالي افغانستان ، صوبه سرحد او د پنجاب په میانوالي ، پنډۍ او اټک ضلعو کښې ددې اوان یونانیانو ریاستونه موجود وو ـ او د پانیني په زمانه کښې چې کوم یونانیان دلته آباد وو ـ د هغوئي زاړۀ آثار د اباسین په قبله او نمر خاتۀ خوارۀ دي ـ د مثال په توګه د اباسین په قبلئیزه غاړه چې کوم اووۀ دیرش ډبر لیکونه موندے شوي دي ـ په هغې ډبر لیکونو کښې دارایوش کبیر د جاګاناتا (جګاتاته) په نوم یاد شوے دے ـ ددې یادګار د جګن ناته په نوم د لاهور صوابۍ نه دوه درې میله فاصله باندې یو کلے آباد دے ـ د جګن ناته معنٰی ده شهنشاه عالم ـ دا هغه یونانیان دي چې د سکندر د حملې په وخت ۳۲۷ ق م او د پانیني ۳۵۰ ق م په زمانه کښې لاهورسره ګېرچاپېره موجود وو ـ

دا یونانیان په دې ټوله سیمه یعني مردان ، صوابۍ ، سوات ، دیر او باجوړ اوسېدل ـ ځۀ وخت چې سکندر په دې ځائے حمله کوله نو د باجوړ نیسا نومې کلي یونانیانو سکندر ته د خپلې سلامتۍ درخواست کړے ؤ ـ او هغه قبول کړے ؤ ـ په دې حقله میر سید بخاري په خپل اثر کښې لیکي :-

"یونانیوں کی یہاں موجودگی کا ثبوت اس سے ـــــــــــــــــــــــــ اور

اس گاؤں کی تاخت سے اپنی فوک کو روک دیا ـ [۲۱]"

ترجمه :- د یو نانیانو دلته د موجودګۍ ثبوت ددې نه هم ملاوېږي چې سکندر ځۀ وخت د افغانستان د فتوحاتو نه اوزګار شو ـ او په صوبه سرحد رانوتو نو د باجوړ نیسا نومې کلي یونانیانو ورته د خپل کلي او ددې د اوسېدونکو د سلامتۍ درخواست اوکړو چې سکندر قبول کړو او ددې کلي د ورانولو نه ئې خپل فوځ منع کړلو ـ

میر سید بخاري لیکي چې پانیني د خپل ګرائمر په دیباچه کښې د دریو نورو قومونو بیکه ، مالا او بهالاذکر هم کړے دے ـ چې په دې سیمه هغه وخت اوسېدل او تر اوسه د دوي په نومونو په صوابۍ کښې بیکا ، بوکا او بهالو کلے شته دے ـ ولې د مالا په نوم په دې سیمه مالاکنډ او په جنوبي هند کښې مالوه د بهالا په نوم تخت بهائي سره نزدې سري بالا ځایونه هم شته ـ

ددې شهادتونو مونږ په دې نتيجه رسو چې پانيني د کوم قوم ياوانان ذکر کړے دے. دغه قوم څلور پينځه سوه کاله قبل مسيح هم په دې سيمه مېشتهٔ وو. نو مونږ وئيلے شو چې پانيني هم په دغه زمانه کښې ژوند کولو.

## د پانيني د زيږدنې ځائے :-

څومره چې د پانيني د زمانې په حقله اختلاف دے دومره اختلاف ددهٔ د ځائے ځائيګي په حقله شته. ټول کوټلي ثبوتونه هم په دې حق کښې دي چې پانيني د لاهور ګندهارا يعني وړوکي لاهور صوابۍ اوسېدونکے ؤ. هسې خو نن سبا د انټرنيټ په ډېرو ويب پاڼو د پانيني د زوکړې ځائے هم سلاطوره يا لاهور ښودلے شوے دے. ولې چا لاهور په اټک پنجاب کښې ګڼلے دے و چا په پشکلاوتي يعني چارسده کښې.

امپرئيل ګزيټئير انډيا د پانيني د ځائے ځائيګي په حقله ليکي :-

" The author of the oldest .......................... West of India[۲۲]"

ترجمه :- د لرغوني سنسکرت ګريمر ليکوال پانيني د هندوستان د انتهائي شمال مغرب اوسېدونکے ؤ.

د ګيرت هم دا رائې ده چې پانيني د سلاطوره کلي اوسېدونکے ؤ.

"گیرٹ کہتا ہے کہ پانینی ـــــــــــــ گندھارا کے علاقے میں واقع ہے۔[۲۳]"

ترجمه :- ګيرټ وائي چې پانيني د صلاتوره کلي چې د اټک نه په قطب قبله پروت دے ، اوسېدونکے ؤ چې د ګندهارا په علاقه کښې دے. اوس سلاطوره يا صلاطوره چرته دے. په دې حقله ښاغلے S.M. Jaffar په خپل اثر کښې ليکي

"The modern village of ................. The road to swabi[۲۴]"

ترجمه :- نوے لاهور او لرغونے سلاتوره د هندوستان د مشهور ګرامر پوهان پانيني د زېږون ځائے په صوابۍ روډ د جمال ګړهۍ نمرخاتهٔ ته د شپږو ميلو په فاصله پروت دے.

د پـانيني د زېـږون د ځـائې پـه حقلـه دوه منلـي شـوي اثرونـه د چينـي سيلاني هيون سانګ سفرنامه او د مشهور آرکيالوجسټ اليګنډر کنـنګهم اثـر دے ـ هيون سانګ په خپله سفرنامه کښې د لاهور د جغرافيې پـه حقلـه ليکـي چې ترجمه ئې څۀ داسې ده ـ

*" او ـ تو ـ کيا ـ ہان ' چا کے ۲۰ لی شمال مغرب میں ہم پو ـ لو ـ تيو ـ لو شہر میں پہنچتے ہیں ـ یہ وہ جگہ ہے جہاں چنگ ' منگ ' لنگ کا مؤلف پاننی پیدا ہوا ـ[۲۵] "*

دغـه شـان د پـانيني د زوکـړې د ځـائې پـه حقلـه د اليګزنـډر کنـنګهم خبـره هـم معتبره ده ـ هغه په خپل اثر کښې ليکي ـ

"In January 1848, during a day's ……………. Salatura with Lahore[۲۶]"

ترجمه :- په جنوري ۱۸۴۸ء کښې په لاهور کلي کښې چې د اوهند پـه شـمال مغرب کښې دے ـ د يوې ورځې د قيام په دوران کښې ماته د يونان او ساسـاني دور سيکې تر لاسه شوې د کومو نه چې دا نتيجه را ايستے شي چې دا ځـائے کـم از کم دومره زوړ دے څومره چې پانيني ګڼلے دے ـ يا خواؤ شـاه درې نـيم سـوه کاله قبل مسيح ـ په دې وجه زۀ د سلا طوره د لاهور په پېژندو کښې هېڅ باک نـۀ محسوسوم ـ

دا ښاغلے ليکوال وړاندې ليکي چې لفظ لاهور د سـلاطور بـدل شـوے او وران شوے شکل دے ـ

"The loss of the first syllable …………………. Written the name to lavor[۲۷]"

ترجمه :-

د هندوسـتان ګـڼ مـاهران پخپلـه هـم د پـانيني د زېږدنـې ځـائے لاهـور صـوابۍ ښـائي ـ د پانيني د کتـاب اشـټ ادهيـائے انګريـزي ترجمـه چـې "Srisa Chandra vasu" کـړې ده ـ د ۱۸۹۸ء پـورې اتـۀ کالـه پرلـه پسـې د الـه آبـاد او بنارس نه چاپ شـوې ده ـ دې کتـاب کښـې سنسـکرت ګريمـر د سـرخط لانـدې د

پانیني په حقله چې کوم معلومات ورکړے شوي دي هغې کښې هم دغه د سلاطوره ذکر دے. او په دې کتاب کښې د سلاطوره لوکیشن هم صحیح په ګوته کړے شوے دے. او دا هم وئیلي شوي دي چې د سلاطوره په وجه په پانیني ته سلاطور یا هم وئیلے شول او دا نوم هغه په خپل ګریمر کښې په خپله هم ذکر کړے دے.

" As his birth place the village………………. Explains in his grammar[۲۸]"

ترجمه :- څنګه چې د هغه د زېږون د ځائے د سلاطوره کلي ذکر اوشو کوم چې د ګندهارا په ملک کښې د اباسین نه د یو څو میل په فاصله په شمال مغرب طرف ته پروت دے. روستنو لیکوالانو هم په دې وجه دۀ ته سلاطوریا وے او ددې نوم جوړښت هغه په خپل ګرائمر کښې په خپله ذکر کړے دے.

ددې شهادتونو نه علاوه په لاهور ښار کښې د پانیني مجسمه او یادګار هم دا خبره پایۀ ثبوت ته رسوي چې پانیني هم ددې لاهور (صوابۍ) وسېدونکے ؤ. په دې حقله میرسید بخاري لیکي :-

*" اُس شہر کے برہمن اپنے علمی صلاحیتوں اور عظیم علمی ۔۔۔۔۔۔۔ دستیاب ہوئے تھے۔ اس واقعہ کی تصدیق کرتے ہیں۔ ۲۹ "*

ترجمه :- د هغې ښار برهمن د خپلو علمي صلاحیتونو او لوئے علمي او عقلي قابلیت دپاره مشهور وو . د پانیني شاګردان د خپل استاذ د مشهورو صلاحیتونو قدر کونکي وو. هغوي دلته د هغه په اعزاز کښې یوه مجسمه هم لګولې وه. چې تر اوومې پېړۍ عیسوي پورې موجوده وه. بدهـ شهنشاه اشوک هم د بدهـ مت د تبلیغ دپاره دلته یو تبلیغ کونکے مادهنتیکا ۲۵۲ ق م کښې ګندهارا ته رالېږلے وو او د سلاطوره پرومتي بدهـ مت قبول کړے وو. یو لوئے یادګار ددې واقعې په یاد کښې جوړ کړے شوے وو چې اثار ئې اوس هم موجود دي. ددې مشهورې ستهوپه لیدو به ډېر سېلانیان راتلل. چې یو په

کښې هیون سانګ هم وو ـ هغه ښکلي بتان هم ددې واقعې تصدیق کوي چې د دلته نه ترلاسه شوي دي ـ
هم ددې مجسمې او ستوپه ذکر هیون سانګ هم کړے دے ـ
"According to hiuan tsang the ……………………………….. as the sevrnth centuty AC[۳۰]"

ترجمه :- د هیون سانګ مطابق په دې کلي کښې برهمن اوسېدل چې د ادبي کارنامو او عقلي ترقۍ دپاره مشهور وو ـ د پاڼیني یاد ژوندي ساتلو دپاره هغوي ددۀ په یاد کښې یوه مجسمه اودرولې وه چې تر اومې پیړۍ عیسوي پورې قائمه وه ـ
د پاڼیني د مجسمې نه علاوه هیون سانګ د یوې ستوپه ذکر هم کوي چې په سلاطوره کښې جوړه شوې وه په دې حقله هغه په خپله سفرنامه کښې لیکي :-

*"پو۔ لو۔ تیو۔ لو شہر میں ایک سٹوپ ہے۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ ایک شاگرد کا مذہب تبدیل کر دیا۔[۳۱]"*

ترجمه :- په پو ـ لو ـ تیو ـ لو ښهر کښې یوه ستوپه ده دا په هغه ځائے جوړه کړې شوې ده چرته چې یو ارهت د پاڼیني د یو شاګرد مذهب بدل کړے وُ ـ
ددې یادګارونو نه علاوه د پاڼیني په نوم په لاهور کلي کښې پنے ونډ تر اوسه پورې شته ـ میر سید بخاري ئې په خپل اثر کښې ذکر کړے دے ـ

*"اس پانینی کے نام پر موجودہ لاہور صوابی کے جنوب مغرب میں ایک ونڈ (حصہ زمین) ہے۔ جسے آج کل پنے ونڈ کہا جاتا ہے۔[۳۲]"*

ترجمه :- ددې پاڼیني په نوم د موجوده لاهور صوابۍ سوئیل قبلې غاړې ته یو ونډ دے چې نن سبا ورته پنے ونډ وئیلے شي ـ
زۀ خپله هم د صوابۍ وسېدونکې یمه ـ په صوابۍ کښې ځائے په ځائې ډېر ونډونه شته دے لکه مئی ونډ ، شو ونډ ، بدهو ونډ او پنے ونډ ـ
د موجوده انډیا څېړن کاران چې کله هم په پاڼیني څېړنې کوي نو هم دې لاهور (صوابۍ) ته راځي ـ په دې حقله میر سید بخاري په خپل کتاب کښې لیکي :-

'' آج سے بیس پچیس برس پہلے کی بات ہے کہ ـــــــــــــــــــــــــ چند دن یہاں رہنے کے بعد وہ یہاں سے چلا گیا۔ ۳۳ ''

ترجمه :- د نن نه څۀ شل پنځۀ ویشت کاله مخکښې خبره ده چې یو جرمن سکالر چې په کیراله یونیورستۍ کښې د جرمن ژبې پروفېسر ؤ ـ دې لاهور ګندهارا ته راغلے ؤ ـ ځکه چې هغه په پانیني څېړنې کولې ـ د لاهور خلقو هغه په پخوانو ډهیرو او ځایونو اوګرځوؤ ـ خاصکر پنے ونۀ چې ئې ولیدو نو حېران غوندې شو ـ هغه لیکل کول او په دوؤ ځایونو تارې او بنزاره باندې ډېر وخت څۀ لیکل ـ بیا ئې بدهو ډهیرې اولیده چرته چې اشوکا یادګار جوړ کړے ؤ ـ د یو څو ورځو د اوسېدو نه پس هغه دلته نه لاړو ـ

ددې شهادتونو نه پس په دې کښې هېڅ شک شبه نۀ پاتې کېږي چې پانیني د لرغوني پاکستان وسېدونکے ؤ ـ او د صوبه خیبر پښتونخوا صوابۍ ضلعې لاهور کلي سره ئې تعلق لرلو ـ

# حوالې


۱ پوهاند عبدالشکور رشاد ، ''پا ني ني ابنټ ادهيائے او په هغهٔ کښې پښتو کلمې''
پښتو څېړنې ( د پښتو څېړنو د نړيوال مرکز د نړيوال سيمينار د مقالو مجموعه ۱۳۵۴ھ ) ، ۱۳۵۶ھ ، ص ۳۱۹ــ ۳۳۰

۲ Panini – http:\\ www-history.mcs.sg-and-ac.uk/-Biographies/panini. Html. (accesed August4,2015

۳ ميرسيد بخاري ، لاهور ( گندهارا ) تاريخ کے آئينے ميں دويم ايډيشن ( لاهور : رحمان شمس پرنټرز آبکاري روډ ، ۱۹۹۲ء ، ص ۱۷۵

۴ پوهاند عبدالشکور رشاد ، ''پا ني ني ابنټ ادهيائے او په هغهٔ کښې پښتو کلمې'' پښتو څېړنې ، ص ۳۱۹ ـــ ۳۳۰

۵ ميرسيد بخاري ، لاهور ( گندهارا ) تاريخ کے آئينے ميں دويم ايډيشن ، ص ۱۷۵

۶ پوهاند عبدالشکور رشاد ، ''پا ني ني اينټ ادهيائے او په هغهٔ کښې پښتو کلمې'' پښتو څېړنې ، ص ۳۱۹ ـــ ۳۳۰

۷ Pushpindra syal and D.V Jindal, *An Introduction to linguistics Language, grammar & Semantics* (Delhi: PHI Learning private limited delhi – 110092, 2013 second edition) P 39

۸ Ahmad salim eds, *Peshawar city on the Frontier* ( Karachi: oxford University press, 2008 , P 35

۹ ميرسيد بخاري ، لاهور ( گندهارا ) تاريخ کے آئينے ميں دويم ايډيشن ، ص ۱۷۸

۱۰ Justice Markandey katju, "Sanskrit Literature and the Scientific Development in India" speech delivered at Banaras Hindu University on 27-11-2010 (available on ) http://www.bhu.ac.in/mmak/resent-article/Justics katiu%27sspee27Nov.pdy (accessed August 14,2015)

۱۱ Ibid

۱۲ Ibid

۱۳ Panini (available on) http://en.wikipidia,org/wiki/panini (accessed August 14,2015)

۱۴ Jushce Markandey katju, "Sanskrit Literature and the Scientific Development in India" speech delivered at Banaras Hindu University on 27-11-2010 (available on ) http://www.bhu.ac.in/mmak/resent-article/Justics katiu%27sspee27Nov.pdy (accessed August 14,2015)

۱۵ Panini (available on) http://en.wikipidia,org/wiki/panini (accessed August 14,2015)

۱۲ Ibid

۱۷ میرسید بخاري ، لاهور ( گندهارا ) تاریخ کے آئینے میں دویم ایډیشن ، ص ۲۷

۱۸ همدغه ، ص ۲۷

۱۹ همدغه ، ص ۱۲۹ ، ۱۷۰

۲۰ همدغه ، ص ۲۸

۲۱ همدغه ، ص ۲۸

۲۲ Imperial Gazetteer of India, v.2,P.263(available on) dsal. uchicag. edu/refrence/gazateer/pager.htm objected id = DS 405./ . 134-vo2-298gif( accessed August 16/2015)

۲۳ میرسید بخاري ،لاهور (گندهارا) تاریخ کے آئینے میں دویم ایډیشن ،ص ۱۷۵، ۱۷۲

۲۴ Ahmad salim eds, Peshawar *city on the Frontier* ( Karachi: oxford University press, 2008 , P 35

۲۵ هیون سانګ ، هیون سانګ کا سفرنامه ، مترجمه یاسرجواد (لاهور : تخلیقات علي پلازه ۳ مزنګ روډ ، ۲۰۰۱ء) ص ۸۴

۲۶ Alexender Cunningham, the Ancient Geography of Inalia The Buddhist period ( New Delhi:Cosmo Publications ,2007), p. 49

۲۷ Ibid p.49

۲۸ Panini ,theAstadhyayi of Panini interpreted according to the Kasikvrtti of Jayaditya vamana,translated by Srisa Chandra vasu (Allah Abad, Indian press ,1891), p(v), http: //www/shemtaia.com/skt/ pdg/ grammar/ashtadhyayi.pdf(accessed August 15,2015 )

۲۹ میرسید بخاري ، لاهور ( گندهارا) تاریخ کے آئینے میں دویم ایډیشن ، ص ۷۲

۳۰ Ahmad salim eds, Peshawar *city on the Frontier* ( Karachi: oxford University press, 2008 , P 35

۳۱ هیون سانګ ، هیون سانګ کا سفرنامه ، مترجمه یاسرجواد (لاهور : تخلیقات علي پلازه ۳ مزنګ روډ ، ۲۰۰۱ء) ص ۸۴

۳۲ میرسید بخاري ، لاهور ( گندهارا) تاریخ کے آئینے میں دویم ایډیشن ، ص ۶۲

۳۳ میرسید بخاري ، لاهور ( گندهارا) تاریخ کے آئینے میں دویم ایډیشن ، ص ۱۲۸